Te Korowai Whetū
Social Cohesion

# هغه څه چې موږ اوریدلي دي

## Social Cohesion Guide for Local Government

## د هغه څه لنډیز چې موږ د ټولنیز یووالي (social cohesion) په اړه د ټولنو سره د خبرو پرمهال اوریدلی

د ۲۰۱۹ کال د مارچ په ۱۵ مه نیټه په کرایسټ چرچ کې د ترهګرۍ برید په اړه د څیړنو شاهي کمیسیون د نیوزیلینډ په Aotearoa سیمه کې د ټولنیز یووالي (social cohesion) ښه کولو لپاره وړاندیزونه وکړل. د ټولنیز یووالي (social cohesion) په اړه د دغو وړاندیزونو د ترسره کولو لپاره د ټولنیزې پراختیا وزارت (MSD) د کار د یوې برخې په توګه، د اړتیا په اوږدو کې د ټولنیز یووالي (social cohesion) د ښه کولو او اندازه کولو لپاره د یوې ستراتیژۍ د رامنځته کولو په اړه له خلکو او ټولنو سره په پراخه پیمانه خبرې وکړې. دا خبرې اترې یا بوختیاوې د جولای ۲۰۲۱ او مارچ ۲۰۲۲ کلونو ترمنځ شوي دي.

د دې غونډو ګډونوالو وویل چې په Aotearoa کې د ټولنیز یووالي (social cohesion) ستونزې شتون لري او همدارنګه د دوی د جنس، عقیدې، جنسیت، جغرافیايي موقعیت او نورو توپیرونو له امله د تبعیض او یا هم د مختلف چلند کولو په اړه خبرې وکړې. ډېرو خلکو په ورته وخت کې د تبعیض بیلا بیلې بڼې تجربه کړې، کومې چې د دوي منفي کړنو ته وده ورکوي. دوي غوښتل چې د دې توپیرونو ارزښت او درناوی وشي، پر ځای د دې چې له پامه وغورځول شي.

ګډونوالو د Te Tiriti o Waitangi یا د Waitangi تړون او ټولنیز یووالي (social cohesion) ترمنځ د پیاوړې اړیکې په اړه خبرې اترې وکړې. دا څرګنده شوه چې Te Tiriti o Waitangi کولی شي موږ ته نه یوازې د ماوري په اړه بلکې د Aotearoa نیوزیلند د خلکو ترمنځ د ټولنیز یووالي (social cohesion) د پیاوړتیا په اړه ارزښتناک درسونه راکړي. ګډونوالو همدارنګه غوښتل چې د ټولنیز یووالي (social cohesion) د رامنځته کولو د هڅو لپاره ډېرې سرچینې مشاهده کړي.

د ټولنیز یووالي (social cohesion) د تعریف په اړه د ګډونوالو سره خبرې اترې وشوې. د دوی د نظریاتو په پر بنسټ، ټولنیز یووالي (social cohesion) داسې تعریف شوی چیرې چې ټول خلک، وهانوا (whānau) او ټولنې په Aotearoa کې وده کوي، همدارنګه سره پیوسته وي او یو بل ته درناوي کوي. برخه اخیستونکو په تعریف کې د "پیوستون"، "درناوي" او "مساوات" د شاملولو په کلکه ملاتړ وکړ.

په شپږو برخو کې چې موږ کولی شو د ټولنيز يووالي (social cohesion) د ترلاسه کولو لپاره پرې کار وکړو، د ټولنيز يووالي (social cohesion) په اړه د اوسنيو څيړنو پراساس هم د ګډونوالو سره پرې خبرې وشوې. د دوی د نظرياتو پر اساس، شپږ برخې په لاندې ډول نوې شوې:

1. تبعيض يا د خلکو سره د دوی د توپيرونو له امله ناوړه چلند؛
2. د مختلفو ډلو د ودې او نښلولو لپاره مثبت فرصتونه؛
3. په مهمو فعاليتونو کې ګډون؛
4. هوساينه او د هوساينې په وړاندې خنډونه؛
5. ټول شموله او ګډ ارزښتونه؛
6. د راتلونکو نسلونو لپاره د ټولنې او چاپيريال ساتنه.

د دغو شپږو برخو په اړه خبرو اترو کې د مساوات، ځواک، زيان، باور، تنوع او هويت مهم مسايل تر پوښښ لاندې ونيول شوو. ګډونوالو وويل چې د شپږو برخو څخه هر يو په برابره توګه د ټولنيز يووالي (social cohesion) د ترلاسه کولو لپاره مهم دي. د تمرکز شپږ ساحې به د هغه کار په بشپړتيا او وده کې مرسته وکړي چې حکومتي ادارو له پخوا په اوټاورا نيوزيلند کې د ټولنيز يووالي (social cohesion) ملاتړ کولو لپاره کوي.

کله چې د ټولنيز يووالي (social cohesion) د کار د بريالیتوب په اړه وپوښتل شول، نو ګډونوالو د يووالي، مساوات، درناوي او د باور چاپيريال رامينځته کولو يادونه وکړه، چيرې چې هرڅوک په فعاله توګه ګډون کولی شي. دا عکس العمل/فيډبيک تحليل او د ټولنيز يووالي د پايلو د يوې ټولګې د رامينځته کولو لپاره وکارول شو ترڅو د ټولنيز يووالي (social cohesion) په لور د پرمختګ په ارزونه او اندازه کولو کې مرسته وکړي.

د تنوع لرونکي ګډونوالو د خبرو اترو يا همکاريو څخه ترلاسه شوي نظرونو او آدياکانو په ښه توګه په Aotearoa نيوزيلينډ کې د ټولنيز پيوستون د ښه والي لپاره يوه ستراتيژي مطرح کړه.

Te Korowai Whetū
Social Cohesion